# له خپل ماشوم سره لوستل

## 4-3 میاشتې



BookTrust
Getting children reading

booktrust.org.uk

له ماشوم سره کتاب شریکول یوه ساعت تېري ده - دا یو بل ته د نږدې کېدلو، خندلو او له یو بل سره د خبرې کولو وخت دی.

له خپل ماشوم سره د کتاب لوستل د هغوی په پرمختګ، ستاسې د اړیکې په پیاوړتیا او ښوونځي ته د هغوی په چمتو کولو کې مرسته کولی شي.



محترمو میندو، پلرونو او سرپرستانو

د ورځې 10 دقیقې خپل ماشوم ته لوست کول له هغوی سره مرسته کوي چې ټولنیز او رواني یا هیجاني مهارتونو ته وده ورکړي او په ځان باوري، خوښ لوستونکی ورڅخه جوړ شي.

داچې په ګډه د کتاب لوستلو څخه څنګه ډېر څه ترلاسه کړو، په اړه یې په دې کتابچه کې ډېرې لارښوونې او نظرونه شتون لري - مونږ هیله لرو چې تاسې به ترینه خوند واخلئ!

له لورې،
په **BookTrust** کې زمونږ ټولو



# د یوځای لوستلو لپاره غوره لارښوونې

- له شور ماشور، تلویزیون او موبایل ټلیفونونو څخه لرې یو خاموشه ځای پیدا کړئ.
- یو له بل سره نږدې کېنئ یا ورونه او خویندې له ځان سره یوځای کړئ او له کیسو او شعرونو څخه یوځای خوند واخلئ.
- د حیواناتو له شورماشور او غږونو څخه ګټه واخلئ - داچاره له ستاسو سره مرسته کوي ترڅو کیسه عملي ژوند ته راوړئ او تاسې دواړه وخندوي.





- د یوځای لوستلو پرمهال پوښتنې وپوښتئ، د مثال په ډول:
ته په دې صفحه کې څه شی لیدلی شې؟
څه فکر کوې چې اداکاران څه ډول احساس کوي؟
- کوښښ وکړئ چې خپل ماشوم د کیسې ویلو ته تشویق کړئ. هغوی کولی شي چې تاسې ته تصویرونه ولولي او د هغه څه په اړه خبرې وکړي چې په صفحه کې شتون لري.
- که چېرې کولی شئ نو خندونکې پېښې وکړئ یا د اداکارانو غږونه وباسئ - چې دا کار هر وخت ماشومان خندوي!



# تصویرونو ته وګورئ او په اړه يې خبرې وکړئ










- آیا یو ډیناسور یا سوی پیدا کولی شې؟ نور څه شی ګورې؟
- څو داني کېلې شتون لري؟
- ماشومان کومه لوبه کوي؟













په یاد ولرئ: له خپل ماشوم سره خبرې کول له هغوی سره د لا نورو کلمو په زده کولو کې مرسته کوي.

# راځئ چې یو ځو کتابونه غوره کړو!

سمه ده چې په تکراري ډول یو کتاب ولولئ ځکه چې اشنا کتابونه ارام بخښونکي وي او په ځان باور پیدا کوي. مګر که چیرې د بدلون لپاره چمتو یاست، نو د هغو کتابونو د پلټلو لپاره چې ستاسې د ماشوم د خوښې شیان پکې وي، زمونږ له کتاب پیدا کوونکي (**Bookfinder**) څخه ګټه واخلئ.

دلته تاسې کولی شئ چې له ماشومتوب څخه تر تنکۍ ځوانۍ پورې د هر عمر ماشومانو لپاره، د مختلفو کتابونو په اړه معلومات پیدا کړئ.


**booktrust.org.uk/books**

بله صفحه هم د پیل لپاره د نویو کتابونو په اړه ځینې غوره نظرونه لري.







# د پیل لپاره ځینې غوره کتابونه




***Shark in the Park*** (په پارک کې شارک)
**Nick Sharratt**
(Picture Corgi)
ټیموتي پاپ، ټیموتي پاپ، د خپل ټلسکوپ په وسیله څه شی لیدلی شې؟' آیا دا واقعاً په پارک کې شارک دی چې هغه یېویني؟
ستاسې ماشوم به په مینه په دې په زړه پورې کتاب کې د کلمو او عملونو په ترسره کولو کې ستاسو سره ونډه واخلي.



***Oi Frog!*** (هی چونګښې)
**Kes Gray & Jim Field**
(Hodder Children's Books)
قوانین داسې دي: پیشو ګان په فرش باندې کیښني، خرګوشونه په زینو کیښني، خرونه په چوکۍ کیښني... مګر چونګښه نه غواړي چې په دړه باندې کیښني. د نظم یو په زړه پورې انځوري کتاب دی چې تاسې او ستاسې ماشوم به وخندوي.



***The Sheep Who Hatched an Egg***
(هغه پسه چې هګۍ یې ماته کړه)
**Gemma Merino**
(Macmillan Children's Books)
لولا ګډه هره ورځ ساعتونه د خپلو په زړه پورې وړیو په پاملرنې تېروي، نو هغه ډېره خفه کېږي، کله چې یوه ورځ هغه له لاسه ورکوي. مګر کله یې چې وړۍ ډېرې ژر بېرته لوییږي، نو د هغې د ډېرې خوښۍ لامل کېږي... دا چې د ښو ویښتانو په پرتله ملګرتیا ډېره مهمه ده، په اړه یې دا یوه په زړه پورې کیسه ده.



***We are Family*** (مونږ کورنۍ یو)
**Patricia Hegarty, illustrated by Ryan Wheatcroft**
(Caterpillar Books)
ټولې کورنۍ سره توپیر لري، مګر ټول یو څه سره شریک لري: مینه. یو ښایسته کتاب دی چې په وسیله یې ډېرې ماشومان کولی شي خپل ځان او یا یوې کورنۍ ته د خپلې کورنۍ په نظر وګوري.

# د ساعت تېرۍ په وسيله زده کړه وکړئ

- کله چې تاسې د باندې او يو ځای واوسئ نو د فکر کولو لوبه ترسره کړئ. له خپل ماشوم څخه پوښتنه وکړئ چې په بسونو، پوسټرونو او نښو باندې کومې شمېرې يا توري ګوري.
- ماشوم ته مو زمينه مساعده کړئ چې په يوه کاغذ باندې د پنسل يا رنګو په وسيله د نښو کولو څخه خوند واخلي. د انځور رسمولو لپاره صحيح يا غلطه طريقه نشته – دا د ليکلو او رسمولو ترټولو لومړۍ مرحله ده.
- خپل ماشوم وهڅوئ چې ډېرې پوښتنې وکړي - دا يو له هغو مهمو مهارتونو څخه دی چې يو زده کوونکی ورته اړتيا لري!





# د نورو نظرونو په لټه کې ياست؟

- خپل محليي کتابتون ته ورشئ چېرې چې تاسې کولی شئ کتابونه په وړيا ډول قرض کړئ. معلومات ترلاسه کړئ چې هغوی د شعرونو او کيسو ويلو ټولګې لري چېرې چې تاسې له نورو کورنيو سره ليدنه کولی شئ او يو ځای له شعرونو څخه خوند اخيستلی شئ!
- له خپل روغتياپال څخه پوښتنه وکړئ چې څه ډول کولی شئ يوځای د کتابونو په شريکولو سره د خپل ماشوم له پرمختګ څخه ملاتړ وکړئ.
- له **BookTrust** سره آنلاين غوره کتابونه پيدا کړئ! زمونږ ويب پاڼه له کتابونو څخه د خوند اخيستلو لپاره ډېر نظرونه او همدارنګه لوبې او د کيسو آنلاين کتابونه لري.
**booktrust.org.uk**





**BookTrust** د انګلستان د ماشومانو د لوست
تر ټولو لویه خیریه اداره ده. مونږ خپل کار د
ماشومانو لوست ته ځانګړی کړی.

د Daniel Taylor له لوري طرحه شوی
چې د خیریه اداري شمېره یې 313343 ده

مونږ تعقیب کړئ

BookTrust
Getting children reading

**booktrust.org.uk**